(c) ketabton.com: The Digital Library

# الفهرس

## بدائع الأفكار لتوحيد المسلمين في الصوم والإفطار

**الموضوع** **الصفحة**

بسم الله الرحمن الرحيم.................................................. ٨

سريزه.................................................................. ٨

خطبة الكتاب.......................................................... ١٠

اوله پوښتنه: قاضي په شريعت کې څه حکم لرئ؟.................. ١٢

جواب.................................................................. ١٢

دوهمه پوښتنه: قاضي په کوم شيء کې فيصله کولای سئ............ ١٣

جواب.................................................................. ١٣

دريمه پوښتنه :ډير خلک بلکې بعض علماء کرام وايي.............. ١٥

جواب: دا خبره غلطه ده.............................................. ١٥

اوله خبره: د قاضي د قضاء حدود ثابت دي........................ ١٥

دوهمه خبره: په روزه کې د قاضي قضاء ته هيڅ ضرورت نسته....... ١٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېيمه خبره: دا ده، چې قاضي چا ته وايي.........................................۱۷

د جواب خلاصه دا سوه.........................................................................۱۸

واما المقلد فلا ينفذ قضاؤه بخلاف مذهبه اصلا، آه.................................۱۸

څلورمه پوښتنه: که خلک د قاضي يا د عالم په اعلان خبر سي..................۱۸

جواب: د دغو خلکو دواړې خبرې بې ځايه دي........................................۱۸

اول دليل: مونږ مقلدين او مذهبيان خلک يو..........................................۱۹

دوهم دليل: له قرآنکريم څخه...............................................................۲۶

د الله جل جلاله احکام پر دوه قسمه دي.................................................۲۸

دوهم حکم.......................................................................................۲۸

شهد په څلورو معناګانو سره راځي........................................................۳۰

درېيم دليل: له قرآنکريم څخه...............................................................۳۹

څلورم دليل: له قرآنکريم څخه..............................................................۴۰

پنځم دليل: له قرآنکريم څخه...............................................................۴۰

شپږم دليل: له قرآنکريم څخه...............................................................۴۱

اووم دليل: له قرآنکريم څخه................................................................۴۲

اتم دليل: له قرآنکريم څخه..................................................................۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم دلیل: پر عدم اعتبار د اختلاف د مطالعو........................... ۵۱

اول احتمال: په اجماع سره باطل دی.......................................... ۵۲

دوهم احتمال هم باطل دی.................................................... ۵۲

نو دریيم احتمال متعین سو، چې خطاب مجموع امت ته دی.................. ۵۳

څلورم احتمال: که د حدیث مبارک په الفاظو کې په غور وکتل سي............ ۵۳

لسم دلیل: پر عدم اعتبار د مطالع ضمني اجماع ده.............................. ۵۶

یوولسم دلیل: پر دې باندې، چې اختلاف د مطالعو غیر معتبر دی.............. ۵۷

دوولسم دلیل: پر دې باندې چې اختلاف د مطالعو غیر معتبر دی.............. ۶۰

علماء کرام کا متفقہ فیصلہ.................................................................. ۶۳

پر دغه اته مسائلو باندې ۴۲ جید علماء کرام متفق دي........................... ۶۶

پنځمه پوښتنه: ډیر خلک دا پوښتنه کوي.......................................... ۶۶

اول: اختلاف د مطالعو ته یې اعتبار ندی ورکړی................................. ۶۷

دوهم: د پاکستان پاچا یې خلیفة الله بللی دی.................................... ۶۷

دریيم : قاضي یا د هلال کمیټې سرپرست یې د خلیفه نائب بللی دی......... ۶۷

شپږمه پوښتنه: مخته دا ثابته سوه، چې په موجبه طریقه باندې.................. ۶۸

اوومه پوښتنه: دغه شیان خو ټول قاضي ته، یا عالم ثقه ته دي.................. ۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتمه پوښتنه: بعضي خلک دا اعتراض کوي........................................٧٤

نهمه پوښتنه: بعضي خلک وايي، چې ځيني اهل علم..................................٧٧

لسمه پوښتنه: بعضي خلک وايي، چې په شريعت کې دوه حسابه دي..........٧٩

ستره گيله او شکوه.........................................................................٨٢

يوولسمه پوښتنه: ډير خلک، بلکې علماء کرام......................................٨٣

اوله وجه: مونږ د امام ابو حنيفة رحمه الله مقلدين يو...................................٨٤

دوهمه وجه دا ده، په حديث کې..........................................................٨٥

اول جهت مرفوع دی........................................................................٨٥

دوهم جهت موقوف دی.....................................................................٨٥

دريمه وجه: په دغه حديث مبارک کې ذکر دي.........................................٨٦

څلورمه وجه دا ده..............................................................................٨٦

د تعجب او تحير خبره په ډيرو جديدو فتاوی وو کې ليکلي دي................٨٧

دوولسمه پوښتنه: څه فرمايي علماء کرام په دې مسئله کې.........................٨٨

پر دغه مسئله باندې دلايل او حوالې.....................................................٩٠

خلاصة الکلام لنيل المرام...................................................................٩٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجې، ځکه دی د سلطان نائب دی، د سلطان یعني: د امیر اطاعت واجب ده، حتی په مباحاتو کې **لا** هم واجب ده، مگر د قاضي په حکم پر هغه چا واجب کېږي، پر کومو خلکو چې دی قاضي دی، او که قاضي یا امیر د شریعت پر خلاف یا د مذهب پر خلاف خلک امر کړي، بیا یې پر خلکو اطاعت نه ده واجب.

خلاصه یې دا سوه چې خلک د قاضي بي اعلانه روزه نیولې سي، او جائز ده. او که یې پر میاشتې علم راغلی وي، بیا یې پر خلکو نیول فرض ده، که څه هم قاضي اعلان نه وې کړی، او که خلکو پر میاشتې علم راغلی وي، او قاضي د نه نیولو اعلان وکړي، هم پر خلکو یې نیول فرض ده، ځکه د قاضي اعلان د شریعت مخالف ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (لا طاعة للمخلوق في «معصیة الخالق».

په یو صورت کې د قاضي اعلان ته إعتبار سته، هغه داده: چې د خلکو پر میاشتې علم نه وي، او قاضي اعلان وکړي، چې روزه ونیسئ، دلته پر خلکو واجب ده چې د ده اتباع وکړي.

**درېیمه خبره داده:** چې قاضي چا ته وایي: او دغه مذکور کس قاضي ده او کنه؟ مخته ذکر سو، چې قاضي و هغه چا ته وایې چې د خلیفه نائب وي په اجراء د احکامو کې، او مذکور کس قاضي نه بلل کېږي؛ ځکه بادشاه په خپله احکام الهي نه جاري کوي، په دې هیواد کې نه حدود سته او نه قصاص، او نه اسلامي حکومت سته او نه نظام، نو بادشاه په خپله خلیفه نه دی، نو نائب به یې څنگه قاضي سي، بلکې د دوی نائبان ججان دي، هغه په قرآن فیصله نه کوي، او خلیفه ته د الله ﷻ حکم ده، چې ﴿فاحکم بینهم بما انزل الله﴾.

دوهم: مذکور کس ئې په دغه فاسد نظام کې هم د ځان نائب نه دی جوړ کړی، صرف ئې د رؤیة هلال د کمیټې چیرمین کړی دی، یعني: صرف یې د دغه اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان او پاکستان ته خبر راورسیږي، نو پر دغو هیوادونو لازمه ده، چې له هغو سره روزه او اختر جوړ کړي، دلته یوڅو تمهیدي خبرې لیکم.

الله ﷻ د انسانو د نفع لپاره د اسبابو نړۍ پیدا کړه، په شپږو ورځو کې یې ځمکه اسمان لمر سپوږمۍ وغیرهم، یي پیدا کړل، د لمر او سپوږمۍ لپاره یې په اسمانونو کې منزلونه او برجونه پیداکړل، دلمر او د سپوږمۍ د حرکت په وجه یې دوولس[١٢] میاشتې، شپې او ورځې پیدا کړې، د علم فلکیاتو په اساس لمر تل وخت پر یوه حال وي؛ ځکه رڼا یې خپله وي، او سپوږمۍ کله غټه، کله وړه، کله بلکل ورکه سې؛ ځکه رڼا یې د لمر په وجه وي. سپوږمۍ چې له کومه ځای ځخه روانه سي، او بیرته چې هغه ځای ته راسي، دیته منزل وایې. په شب و روز کې دا یو منزل پوره کوي.

دوولس[١٢] برجونه دي، اته ویشت[٢٨] یې تقریبا منزله دي. لمر په څلورم اسمان کې دی، او سپوږمۍ په اول اسمان کې ده، د لمر حرکت تیز دی پرسپوږمۍ باندې.

د سپوږمۍ د پیداکولو طریقه أهل فلکیات داسې بیانوي، وایې: سپوږمۍ هر وخت په اسمان کې موجوده وي، لکه لمر چې کوم وخت د سپوږمۍ پر سر بلکل برابر سي، نسبت و ځمکې ته، یعني: سپوږمۍ د لمر، او د ځمکې په منځ کې سي، په دې وخت کې سپوږمۍ ورکه سي، او رڼا یې نه معلومیږي؛ ځکه ځمکې ته یې شا سي. سپوږمۍ د آئینې (هنداري) په څیر ده، دواړه د مغرب طرف ته روان وي، ١٥-١٧، یا ٢٧ ساعته علی إختلاف الأقوال، چې رفتار سره وکړي، لمر دونه ځینې مخته سي، چې سپوږمۍ امکان د لیدو پیدا کړي؛ ځکه محاذات یې ختم سي، او تر له تیر سي. هغه د لمر خواته پر څوکه یې رڼا ولګیږي، نرۍ ښکاره سي، بله ورځ لمر هم دومره نور ځینې تیر سي، د دې پنډوالی یوڅه نور زیات سي، دغه رنګه پنډوالی یې ورځ په ورځ زیاتیږي د میاشتې تر نیمایې پوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میاشتې په نیمایې کې یې بلکل رڼا پوره سي؛ ځکه زمکه د لمر او د سپوږمۍ په منځ کې سي، دوی په خپل منځ کې سره مخامخ سي، کوم وخت چې لمر د کُرې ترمنځ پسې ورتیر سي، سپوږمۍ بیرته پر کموالې شروع وکړي، هغه څوکه چې پخوا رڼا سوې وه، هغه بیرته توره سي، د دې گول والی کنډو سي، په اته ویشت(۲۸) ورځو یا منزله کې لمر بیرته پسې راورسیږي، او د دې پر برابر سي، دا بلکل د ده «لمر» او د زمکې ترمنځ سي، دغه رنگه بیا په ۱۵ یا ۲۰ ساعته کې د لمر له شعاعو ووځي، دی د مغرب طرف ته مخته سي، او دا شا ته پاتې سي، دا سلسله به جارې وې تر قیامته پوري. په دې کې د الله ﷻ حکمت دا دی، چې خلکو ته د عباداتو، معاملاتو، أوقات او حساب ور ښه ئي، تر دغه لمر او سپوږمۍ الله ﷻ احکام معلق کړي دي.

## د الله جل جلاله احکام دوه[۲] قسمه دي.

لومړی تکلیفي. دوهم وضعي.

## لومړی حکم:

حکم تکلیفي هغه ته ویل کیږي: چې الله تعالی په قران مجید او یا حدیث کې ذکر کړی وي، مثلا: لکه لمونځ، او روزه.

## دوهم حکم:

حکم وضعي هغه ته ویل کیږي: چې الله تعالی په حکم تکلیفي پسې معلق کړی وي، لکه: وخت د لمانځه او د روزې لپاره. الله تعالی چې حکم تکلیفي په هر شيء پورې معلق کړي، د دغه حکم تکلیفي او د هغه شي په منځ کې که یو مناسبت عقلې وي، هغه شيء ته علت وایې، او که مناسبت عقلې نه وي، هغه ته بیا سبب وایې. دغه لمر او سپوږمۍ د احکامو تکلیفیه وو لپاره اسباب دي؛ ځکه په دوی سره وختونه معلومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لتعلموا عدد السنين والحساب﴾.

او الله جَلَّالهُ فرمايي: ﴿ألشمس والقمر بحسبان﴾. لمر او سپوږمۍ په خپل حساب چليږي، د دې لپاره چې تاسي د كلو شمير او حساب ورباندې معلوم كړي، نو چې د هر ښار كلي او وطن خپله مياشت سي، بيا دغه مقصد فوت سو.

**الدليل السادس**: قوله تعالى ﴿هو الذي جعل الشمس الآية﴾ ﴿والشمس والقمر بحساب﴾ اي يجريان بحساب و نظام في منازلهما لنعلم بذلك الأوقات، ونضبط السنين والحساب، وزعم تعدد الأهلة في كل شهر بالنسبة لكل بلد يناقض هذه الآيات.

**اووم دليل:** له قرآن كريم څخه پر دې باندې، چې إختلاف د مطالعو إعتبار نه لري، دا قول د الله جَلَّالهُ دى: ﴿ انا انزلناه في لية القدر﴾.

الله جَلَّالهُ وايي موږ قرآن د ليلة القدر په شپه را نا زل كړ، قرآن كريم له لوح محفوظ څخه بيت المعمور ته الله جَلَّالهُ په يوځل باندې په شب قدر كې رانازل كړ، او بيا يې ځمكې ته تقريبا په [٢٣]كاله كې نجما نجما، "ليږ ليږ" رانازل كړ، دلته دوې خبري قابل غور دي.

يوه دا ده چې په اجماع د امت سره ثابته ده، چې قرآن په يوځل نازل سوى دى، نو معلومه ده چې ليلة القدر يوه ده، كه د هر وطن ليلة القدر جلا سي، نو به د قران كريم نزول هم متعدد سي، او دا باطله ده. او كه يو څوك ووايي: چې قرآن په سعودي كې نازل سوى دى، نو له ليلة القدر څخه د سعودي ليلة القدر مراد دى.

موږ وايو: يو خو آيت مبارک مطلق دى، دغه تخصيص دليل غواړي، او بل د نورې نړۍ لپاره ليلة القدر ختم سو؛ ځكه د لية القدر فضيلت په وجه د نزول د قرآن سره دى، قرآن هغه د سعودي په شپه كې نازل سوى دى، دا باطله ده؛ ځكه چې د ليلة القدر فضيلت د ټولې نړۍ مسلمانانو ته ثابت دى، نو د ټولې نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مفرد ذکر کړی دی، «فیها» او «هي».
دلته یوه بله مسئله هم حل سوه، کڅه هم له موضوع وتلې ده، هغه داده چې الله ﷻ یوځل یوه ورځ او یا شپه افضله کړي، بیا هر وخت چې هغه ورځ او یا شپه مکرره سي، هغه فضیلت ورسره وي، لکه د لیلة القدر شپه؛ ځکه قرآن خو یوځل نازل سوی دی، د هغه کال په شپه کې، مګر دغه شپه هر کال فضیلت لري.

**اتم دلیل:** له قرآن کریم څخه پر دې باندې، چې إختلاف د مطالع لره إعتبار نسته. الله ﷻ فرمايي: ﴿انا انزلناه في ليلة مباركة إنا كنا منذِرِين، فيها ليفرق كل أمر حكيم﴾ «سورة الدخان».
په دې أیات مبارک کې د مفسرینو إختلاف دی، بعض وايي: چې په دغه آیت مبارک هم لیلة القدر مراد دی. او بعض وايي: چې لیلة البرائة د «شعبان پنځلسم» ځېني مراد دی، چې موږ یې د برات شپه بولو. په اخیرنې تقدیر سره دا دی، الله فرمايي: موږ قرآن کریم په مبارکه شپه کې نازل کړ، یعني: له لامکان څخه لوح محفوظ ته، د دغه نقل په کیفیت الله ﷻ عالم دی، چې څنګه یې نقل کړ، او د غه نقل یوځل سوی دی. نو له دې دا معلومه سوه، چې دغه شپه د دنیا لپاره یوه شپه ده، که د هرچا خپله شپه سي، نو د قرآن کریم نقل به هم بار بار سي، او دا باطله ده.
او دوهم په دغه آیت مبارک کې ذکر دي، چې الله ﷻ په دغه شپه کې د هر انسان د کال لیسټ له لوح محفوظ څخه را اخلي، او فرښتو ته یې ور سپاري، یعني: په کال کې، چې انسان ته څه پیښیږي، مرګ، درد، صحت، ناجوړې، غم، خوشحالی، رزق، حج او وغیره، نو دغه شپه که مکرره سي، یعني: که د هر هیواد خپله شپه سي، نو دغه سلسله به هم مکرره سي، بار بار به الله ﷻ فرښتې حاضروي، او دغه لیسټونه به ورکوي، او دا هم باطله ده، پر دې باندې هیڅ عقلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفرقة بين الاقطار والعلوم الفلكية تؤيد توحيد اول الشهر الشرعي بين الحكومات الاسلامية؛ لان أقصى مدة بين مطلع القمر في اقصى بلد اسلامي آخر هو نحو تسع ساعات فتكون بلاد الاسلام كلها مشتركة في اجزاء الليل تمكنها من الصيام عند ثبوت الرؤية، والتبليغ بها برقيا او هاتفيا والاحتياط هو الاكتفاء بتوحيد الاعياد في حدود البلاد العربية بداء من عمان في الشرق الى المغرب الاقصى، الفقه الاسلامي وادلته، (٣/١٦٦٢)

**دوولسم دليل :** پر دې باندې، چې إختلاف د مطالعو غير معتبر دی، د افغانستان علماء كرام الحمد لله ټول پر دې متفق دي، چې إختلاف د مطالعو إعتبار نه لري، زما په ياد باندې په افغانستان کې د روزې او د اختر إختلاف منځته ندی راغلی، الحمدلله داسې نه دې سوي، چې په افغانستان کې دې دوې روزې او يا دوه اختره جوړ سوي وي، بلکې د هغو طريقه دا ده چې د هيواد په هر کونج کې چې څوک هم ووينې، ټول هيواد ته د هغه ليدل کافي دی، کځه هم په هيواد کې داخل مطالع مختلف دي، او يا په بل هيواد کې ووينې، د هغه هيواد ليدل هم ورته کافي دی،کځه هم هغه ليدل په سعودي کې وي. او دغه رنګه په پاکستان او هندوستان کې د احنافو جيد علمآء کرام ديوبنديان وي، او که بريلويان وي، او که په بل نامه وي، ټول پر دې متفق دي، چې إختلاف د مطالعو إعتبار نلري، له دې وجې دوی هم په خپل هيواد کې د يوځای ليدل کافي بولي، او سره له دې چې د پاکستان اوږدوالی له مغربه تر مشرقه کم از کم «دوه نيم زره» يا «درې زره» کلو ميتره دی، او هندوستان تر پاکستان غټ دی.

له دغو علمآء کرامو څخه د يوځو علماوو نومان ذکر کوم!

د بريلوی حضراتو لپاره احمد رضا خان صاحب کافي دی، ځکه دوی نوموړي ته د إمام درجه ورکوي، احمد رضا خان صاحب په فتاوی رضويه کې ذکر کړي دي،

